# دافغانستان د ادبیاتو ځلانده« غمي »






**غلام نبی اوسپرین ـ یورش**

څه موده مخ کی د انترنیټ له لاری د ښاغلی محمد عالم افــتخار له ځینې لیکنو سره آشنا سوم، او په دې هم پوه سوم چې نوموړي ښاغلي غواړی خپل یو کتاب چې «ګوهر اصیل آدمی» نومیږی، چاپ ته وسپاری. ما څه ناڅه د دې کتاب په باب پــه انتر نیټ کې تر لاسه کړی وو،هغه لنډ معلومات د کتاب ځاي نشی نیولي، خو بیا هم دا راته جوته شوه چې کتاب باید خورا په زړه پوری مطالــب ولــری. زه د کــتاب د چمتو کېدو لپاره سترګې په لار وم چې نابېره **دغه ځلانده «غمي»** ماته راورسید او هغه په دې توګه چې افتخار

صاحب خپل کتاب ماته د ډالۍ په ځېر راولېږه. زما لپاره کتاب ډېره ستره ډالۍ بلل کېږي په همدې خاطر زه ډېر خوښ سوم او د افتخار صاحب له دې احسان څخه ډېره مننه کوم.

کله چې ما د کتاب په لوستلو پیل وکړ، « داسې ئې پسې واخیستم چې د کتاب تر پایه و نه دربېدم»، دا په دې مانا چې دکتاب مطالب دومره په زړه پورې دی چې سړي نشی کولای چې لوستل ودروی اوځيني نور کارونه، او حتی ضروری کارونو ته زړه ښه کړی. زه دکتاب له لوستلو سره ډېره مینه لرم، او حتی ویلي سم چې د لوستلو ډیر حریص هم یم، هر راز لیکنه چې په لاس راشی مخ ترې نه اړوم، خو په لیکلو کې مې مزه نشته. د ښاغلی افتخار **«گوهر اصیل آدمی»** یو ژور او په زړه پوری علمی – فلسفی اثر دي چې د افغانی ادبیاتو په آسمان کې د یوه ځلانده ستوری په شان را څرګند شو. د کتاب له متن څخه داسې څرګندېږی چې افتخار صاحب د لوړ استعداد او ذکاوت خاوند دي او ستره علمی ذخیره له ځانه سره لری. هغه د ساینس او تکنولوژی په باب معلومات لری او د ښه قلم خاوند هم دي. هم دادي چې پخپل کتاب کې ئې د اجتماعی ژوند او سړیتوب پټ رازونه راسپړلی دی او تر وسه وسه ئې د علاج وسایل هم په ګوته کړی دی. ښاغلی افتخار زما د نهاد، زما د معنوی عالم په دننه کې هغه غوټه خلاصه کړه چې ما ئې د خلاصولو توان نه درلود. زما او دملیونونو انسانانو پیام، فریاد او آرمان ئې د کاغذ په مخ انځور کړو او بشریت ته ئې وړاندې کړ. اوس نو د هر رسالت مند انسان دنده ده چې د ریښتینی انسان د روزلو لپاره هڅې پیل کړی او د **«گوهر اصیل آدمی»** سپارښتنې په عمل کې پیاده کړی.

هغه څوک چې په انسان پسې ګرځی او خپله ټوله پوهه او ځواک او ښکلي قلم د ریښتینی انسان د جوړولو او روزلو په لار کې په کار اچوی؛ ژبه، قوم، قبیله، لوري او ځاي ته اهمیت نه ورکوی، په رښتیا سره انسان دي، ښاغلي افتخار همداسې یو شخصیت دي او دهمداسې خلکو په کتار کې ولاړ دي او په انسانیت ئې اړخ لګولي دي. نوموړي کتاب ځینې ځانګړتیاوې لری چې په نورو کتابو کې لږ او یا هېڅ نه لیدل کېږی، کیداي شی چې، د مثال په توګه، ځینې ځانګړتیاوې داسې بیان شی:

ـ کله چې سړي دکتاب په لوستلو پیل کوی، داسې یوفکر ورته پیداکېږی چې په دې اثر کې آفاقی معلومات راټول شوی او په څنګ کې ئې د افغانی ټولنې ناخـــوالې هم بیان شوی دی، خو کله چې **« زینو »** ته رسېږی لمړي برداشت ړنګېږی او داســـی احساس منځ ته راځیچې **« ګوهر اصیل آدمی»** یواوتوبیوګرافیک اثردی او لیکونکی دهغه په ترڅ کې خپل نظریات هم بیان کړی دی. کله چې لوستونکي د **«زینو»** منځ ته رسېږی پورتني احساس هم بی بنتسېته کېږی او حقیقت بلـــه بڼــه اخلی او بالاخره پوهېږی چې د **«زینو»** داستان یوه علمی – فانتزی کـیسه ده چـې لـــیکونکی جوړه کړې او لوبغاړی ئې هم پخپله خلق کړی دی، تر څو وکړاي شی چـې لوستونکي په مشکلو علمی مطالبو په آساني سره پوه کړی او هغه وهڅوی چې په مینه او خوشالۍ سره کتاب ترپایه ولولی. که چېرې د ښاغلی افتخار نومــوړي اثــر لــه یوه بل کتاب سره چې **« دسوفیا نړی، دفلسفې د تاریخ په باب داستان»** نومېږی او مـــولف ئې ښاغلي یوستین ګوردیر دي، مقایسه شی، د سبک او هدف له لحاظه ډېر ورته دی او مشابهت سره لری. د افتخار صاحب اثر یو علمی ـ فلسفی داستان دي او د ښـــاغلی یوستین ګوردیر اثر هم فلسفی داستان دي، خو ددې دواړو کتابونو په منځ کی تــوپیر شته ، اوهغه هم دادي چې ګوردیر یواځې د فسلفې تاریخ بیانوی، خو افتخارصـــاحب د ریښتینی انسان په لټه کې دي او**«ډیوه»** پر لاس په افغانستان او نورو هېوادو کــې ګرځی تر څو خپل پاک او انسانی هدف ته ورسېږی .

ـ د ښاغلی افتخار د اثر بل خصوصیت په دې کې دي چې کتاب په سلیسي او رواني دری ژبې لیکل شــوي، هــغه خــوږه دری ژبه چې په افغانستان کې مروجه ده، له پېچلواو نامانوسو او پردیو لغاتونو او اصطلاحاتو نه ډډه شوې ده اوله هغو سوچــه دافغانی ټولنې اصطلاحاتو څخه، چـې زمونږ بڼه اېسېږی او خوښېږی، استفاده شوې ده، په همدې خاطر افغانی لوستونکی د کتاب په لوستلوکې له ستونزو سره نه مخامخ کېږی او په مینه ئې لولی. ځینې کسان له پردیو اصطلاحاتو نـــه ددې لـــپاره استـــفاده کوی چې نورو داسې تفهیم کړی چې: « *زه له تاسې نه ډېر پوهېږم* ». خو دا سمـــه نه ده، خپله پوهه په نورو باندی پاسلل، ګمراهی ده . حقیقت دادي چې پوهــه «ساده نویسی » ده ، **«ګوهر اصیل آدمی»** چې هر باسواده انسان ته په لاس ورشـــــی، په

لوستلوکي له زیاتو ستونزو سره نه مخامخ کېږی او ګڼ شمېر لوستونکی لری. هــغه سړي پوه دی چې بل په آساني سره وپوهوی.

ـ رسم داسې دي چې پایلیزه(پس ګفتار) د کتاب په پاي کې لیکل کېږی، خــو ښاغلی افتخار یو سلسله مطالب(پرتوی بر هدف ...) د کتاب په سرکې لیکلی دی چې هماغه پایلیزه(پس ګفتار) بلل کېداي شی. داهم د کـــــتاب یوه ځانګړتیاده چې بل چېرته لږ لیدل کېږی. زما په نظر، داراز اړونه(پای سرته راوستل) ګټوردی، ددې لــپاره چې لوستونکی، د کار په پیل کې، د کتاب اساسی مطالبو ته متوجه کوی او اړ ئې باســی چې اساسی مطالبو ته زیاته توجه وکړی.

په پاي کې باید ووایم چې **«ګوهر اصیل آدمی»** داســې یــو کـتاب دي چـــې په لوستلو سره ئې انسان له هرراز ستیریو ټیپونو او شابلونی افکارو څخه خلاصـــېږی او په ټولو ضد انسانی او ضد ملی کړو وړو باندې چلیپا باسی.

غلام نبی اوسپرین ـ پورش